# په نننۍ صورت حال کښې د دریم لوئې جنګ انګازې او زمونږ د قیادتونو د راهنمائۍ امتحان

رحمت شاه سایل

د دسمبر ږومبۍ لسیزې په بین الاقوامي او علاقائي صورت حال کښې ډېره سنسي خیزي، هنګامه خیزي او معنی خیزي پېدا کړۀ. داسې معلومېږي لکه وخت او حالات چې د برګر راهنمایانه تصویرونو نه د فرضي او غولونکي میک اپ د رنګونو پرده راټولوي. او امتحان ترې اخلي.



د نړۍ د ټولو لویو وړو ملکونو تاریخي تضاداتو،مفاداتي عزایمو،توسیع پسندانه خیالونو او ایټمي خرمستیو لکه چې اوسنۍ دنیا (نړۍ) د یو بل لوئې جنګ طرف ته وړې ده. سرمایه دارانه تصوراتو ټول بنیادي، تاریخي او فرقه وارانه تضادات د جنګ جنګ لوبې ته رابللي ښکاري. اوس لکه چې نوره د سره د سوړ جنګ زمانه په ختمېدو ده.

د نائن ایلیون نه پس د فرانس واقعات د شام او عراق تازه صورتحال د ځینې خلقو په خیال د دریم لوئې جنګ (جنګ عظیم) اشارې او انګازې دي. اګرچې دا زمانه د یو دریم لوئې جنګ د برداشت زمانه نه ده. ځکه چې نننۍ انسان او د هغه اجتماعیت د خپل ژوند ټوله سرمایه (پنګه) د بارودو په ډېرۍ ایښودې ده. نو ممکنه نۀ ده چې لوئې جنګ اونښلي. خو امکانات ئې په حتمي ډول مسترد کېدے هم نه شي. ځکه چې د جنګ نه د ګټې اخستو لوبې د سرمائې د طاقتونو خوند هم د خولې کړے دے. او انسان ئې د وړو او جذباتي ملکونو دننه د فرقه پرستۍ په وسله بنډلے هم دے. امریکه چې نن نه یوازې ځان یوازینے سپرپاور ګڼي بلکې د سرمایه دارې دنیا د قیادت پټکے هم په سر لري. د هغوي نوې منصوبه بندۍ د دنیا د امن سره ډېرې متضادې ښکاري. نو که لوئې جنګ اوهم نه شي نو د دنیا یوه لویه حصه به د یو لوئې نقصان سره مخ شي.

د توقعاتو خلاف په شام کښې د روس موجودګي. او د تورکي موجودګي. او عراق ته د

امـریـکې د فـوځـونـو لېږلو اراده. په یمن کښې د سعودي د فوځونو جګړه چې په اوسني دور کښې د ځـومـره خطرناکو اشارو نخښې نخښانې ورکوي. دے کـه یـو طـرف نننۍ دنیا د غیر یقیني صورت حال سره مخ کړې ده. نو بل طرف ته ئې دا نړۍ د قیـادتـونو یو لوئې امتحان هم دے. خو په دغسې صـورت حـال کښې به زمونږه او زمونږه غونډې د نـورو تـرقـي پزیر ملکونو، قامونو او اولسـونو څه صورت حال وي؟

زمـونږ دپـاره خپـل دغسې سـوالونو ته د جواب قیادتونه لرې لرې هم په نظر نه راځي او که راځي نو هغوي بې لاسو او بې خپو ښکاري. په هم دې لسـیـزه کښې (د هارټ آف ایشیاء کانفرنس) د عـلاقـائـي صورت حال دپاره لاس ته راغلې یوه داسې ذریـعـه ده چې که هند و پاکستان،افغانستان او چیـن د دغې ذریـعې نه په صحیح معنو کښې د استفادې کوشش وکړي نو په مجموعي مشکلاتو کښې نـه یـوازې کمے پېدا کولے شي. بلکې خپل مـلـکـونـه،قـامونه او اولسونه هم د دې تکلیف د صـورت حال نه بچ کولے شي. د هاټ آف ایشیاء د غـونډې تـصـور د عـلامـه اقبـال د دې شعرونو نه اخستے شوے دے چې :

آسیـــا یک پیـــکــرِ آب و گـلِ است
مـلـت افـغــان در آن پیـکـرِ دلِ است
از فســـــادِ او فســـــادِ آسیـــا
ازکشـــــاده او کشـــــادِ آسیـــا

یـعـنې افغانستان او افغان ملت د ایشیاء د زړۀ مثال لـري. کـه چرې دغلته امن وي نو په ټوله نړۍ کښې بـه امـن. او که دغلته فساد او بیماري وي نو په ټوله نړۍ کښې بـه فساد او بیماري وي. د پښتو متل دے "چې اوبـو وړے هـر ډکې ته لاس اچوي"، اګرچې هر ډکے هـر وزن برداشت کولے هم نه شي خو په موجوده وخت کښې که زمونږ مُضمحل قیادتونو که د علامه اقبال د تصور د دغې تصویر لفظي معنې طرف ته هم رجـوع وکړه نـو دا بـــه د دې ځـائې د ځـلورو پینځو ملکونو د قامونو او ولسونو په حق کښې یوه معجزه ګڼل په کار وي.

د کـانـفـرنـس نه پس د اسلام آباد په اعلان کښې چې کومې فېصلې مېنځ ته راغلي دي هغه هم حـوصـله افزا دي. خو د دې د کامیابۍ راز به په رویو بـدلـولـو کښې وي. مـونږ تـراوسه بې شکه په رویو بـدلـولـو کښې نـاکامۍ سره مخ شوي یو خو یو څیز چې پـــه مـونږ ټـولـو زورور دے هـغـه زمونږ د ټولو شریک ضرورتونه دي. په خصوصیت سره که د چین د کـاریډور مسئله په ټیک طریقه حل کول ضروري وګڼلے شي نـو لـکـــه د تـاپي ګیـس پـائپ لائن د اقتصادي منصوبې د ترقۍ نوې لارې روښانه کېدے شي.

دې طـرف تـــه تـوجــه او زمونږ د مستقبل ضـرورتـونـه شـایـد چې پـه پورته ذکر شوؤ ملکونو کښې نه یوازې زمونږ ضرورتونه دي بلکې په مونږه ټـولـو زورور هـم دي. پـه خصوصیت سره د چین تر ګـوادره راتګ بـه د دې صـدۍ د ټولو نه لوئې بدلون وي. او دغـه بـدلـون شـاید زمونږ د امن ضرورت هم وګـرځـي. او مـونږ د اوسـنـي نړې وال غیـر یـقیني صورت حال نه هم بچ کړي. او دا زمونږ د دې ملکونو د قیـادتـونـو امتـحـان هم دے. او د موجوده پیچیده چیـلـنـجـونـو نه په کامیابۍ سره د وتو یوه بختوره مرحله هم!!!

که دومره اوشي نو هم فرض به پوره شي
چې د ارمان په مزار اُښکې بلول شي اسان